# ٥: منظركشي

# Imagery

لکچر: پوهنمل مصطفی صفا

# صحنه او منظرکشي

هر داستان د صحنو ټولګه وي. که يو داستان له دېوال سره تشبيه کړو، نو صحنې له هغو خښتو سره تشبيه کولای شو چې همدا دېوال ورنه رغېدلی دی. په تياتر کې د هر هغه عمل ننداره د ډرامې يوه صحنه بولو چې په واحد زمان او مکان کې وي. کله چې د پېښو زمان او مکان بدلېږي، صحنه هم ورسره بدلېږي. په تياتر کې معمولاً د پردې د راکوزېدو، له سټېج څخه د څو شېبو په مخه د ممثلانو د وتلو او يا چوپتيا په وسيله له يوې صحنې څخه بلې ته اوړو. د صحنې اصطلاح هم له تياتر څخه د داستان بحث ته راغلې ده. په داستان کې  هغه څه ته صحنه وايو چې په واحد زمان او مکان کې پېښېږي او لوستونکي ته په مسقيم ډول وړاندې کېږي.

يا هغه ځای يا مکان چې د داستان يوه پېښه پکې رامنځ ته کېږي او کرکټرونه خپل رول پکې ترسره کوي صحنه بلل کېږي.

د ناول د کيسې پېښه يا پېښې چې په کوم زمان او مکان کې پېښېږي، د هغه ځای او وخت تصوير وړاندې کولو ته منظرکشي وايي.



# د صحنو انځورولو اړتیا

که خپلو تجربو ته پام وکړو؛ بیان د سړي له حافظې وځي، خو تصویرونه پر ذهن سیورى پرېږدي او تر ډېره وخته ژوندي وي. د خپل ماشومتوب ډېرې خبرې مو نه دي یادې، خو ډېرې صحنې او تصویرونه مو لا د ذهن په البم کې محفوظ دي.

په داستان کې ډېر کله تر «توصیفي بیان» نه «ترسیمي بیان» بیان اغېزناک راځي. په توصیفي انداز کې ته د یوه ځای په اړه معلومات ورکوې، خو په ترسیمي انداز کې هغه ترسیموې او انځوروې. البته ځینې وخت توصیفولو ته هم اړتیا وي، خو باید تر اندازې زیات نه شي او خپل ځانګړې جذابیت وساتي.

# د صحنو یا منظرو ډولونه

## طبیعي منظرې

ونې،
ځنګلونه،
سیندونه،
غرونه،
اسمان،
ځمکه،
سپوږمۍ،
ستوري،
اوبه،
ډاګونه،
شګې، خاورې، بادونه او ...

## د ټولنیز ژوند منظرې

کورونه
کلي
ښارونه
ودانۍ
پارکونه
سړکونه
موزیمونه
باغونه
نندارتونونه
سینماګانې
میله ځایونه او...

## خیالي منظرې

خیالي او موهومي مناظر چې لا نه دي جوړ شوي او د انسان په خیال کې ګرځي راګرځي.

لکه:

په سپوږمۍ کې ژوند کول.

د بلې دنیا تصورات

د بل ستوري خیالي موجودات او د هغوی استوګنځایونه

د خوبونو نړۍ انځورول

او ...

# ۱: د طبیعي منظرې بېلګه

د کرکۍ نه سالنګ رسا سپین ململ و، چې تقریباً هوار غوړېدلی و. د اوړي د وخت شېلې یې اوس هواره سپینه ځمکه وه او ګړنګونه او ژور خوړونه یې داسې له واورو ډک وو، چې د نابلده سړي به زړه غوښتل چې د سړک نه کوز شي او چکر پرې ووهي. د واورې د دې ارتې ورشو آهنګ ایله دوه ځایه مات شوی و. یو د تونل خوله وه چې د کړکۍ نه داسې سرته ورته وه چې بدن یې په سپین کفن پوښلی وي. بل هغه کمر و، چې څلور پنځه کیلومتره د تونل کینې خوا ته د سړک لور ته، راکړوپ شوی و او په دېواله باندې یې د واورې د تم کېدو ځای نه و او چې به د واورې په شېبو کې وقفه راغله او لمر به شو، نو داسې سوربخون ښکارېده، لکه د پېغلې مخ چې چارچاپېره ترې سپین څادر تاو شوی وي.

د استاد شپون د ناول (شین ټاغی) لومړی مخ

## ۲: د ټولنيز ژوند د منظرو بېلګه

د ښار پر سوپر مارکېټونو وګرځېدم، خصوصاً په هغو چې د بهرنيانو لپاره يې خوراکي توکي برابرول او يو ډول نااشنا مسالې به پکې کـتار ايښي وې. په يو کتاب‌پلورنځي کې مې د آش د پخلي لارښود واخيست او په خوراکه پلورنځيو کې مې روميان وپېرل. ورپسې مې د آش ټول ډولونه، چې موندی مې شول، راونيول...

د پيازو او هوږې پرې شوې ټوټې او د زيتون غوړو تاو به هوا ته پورته شو او يوه وربخ به يې رامنځته کړه. بيا به زما د وړوکي بلاک ټولو کونجونو ته ولاړه؛ غولی، چت، دېوالونه، کتابونه، کالي، د تينس بېټ او د خطونو بنډلونه؛ ټول به يې په بوی کړل، په يو خوږ بوی... د آش رشتې ډېرې نازکې دي او همدا ده چې ډېر پام غواړي. د پخلي په وخت مخ ترې اړولی نه شې او که نه د دېګ له ښندو ښوييږي او په توره شپه کې پسې ورکيږي...

(د آش کال) د «هاروکي موراکامي» داستان

## ۳: د خيالي منظرې بېلګه

د تابوت له يوه چاود څخه مې پر باران وهلې نمجنه ځمکه له ورايه سترګې ولګېدې، تورې خاورې ډېرې شوې وې. دوو کسانو چې يوه د تابوت بر سر او بل يې کوز سر نيولی و، يوه بل ته وويل: «قبر به يې تيار کړی وي؟»...

زه چې په تابوت کې څه د مړيني وهم وهلی وم او څه هم د يخنۍ له امله رپېدم. حيران وم، پخوا مې اورېدلي وو، چې د مړي ډېره يخني کېږي. دا رښتيا خبره وه؛ رښتيا چې ډېره يخني مې کېده. ژامې مې ړچېدلې، لړزېدلم؛ خو کله چې ژوندی وم، په دې راز نه پوهېدم. زه يوازې رېږدېدلم. يخني او ساړه، همدا زما برخليک وو. بل څوک پرې نه پوهېدل. بايد پرې پوهېدلي هم نه وای. زه په يوه سپين کفن کې نغښتی وم. ټولو راغليو کسانو زما په حال ډېر افسوس کاوه. ټول په ښکاره خفه برېښېدل، خو په دې هم پوهېدلم چې دا خواخوږي هم زما د عمر په څېر لنډه او لږ پايښته ده...

(د اکبر کرګر داستاني کليات: ۲۸۳، ۲۸۴مخونه)



د منظر کشۍ دوه ډولونه

ساکته منظرکشي

متحرکه منظرکشي

# ۱: ساکته منظرکشي

د منظرکشي په دې ډول کې تصویر په ولاړ او ساکت حالت کې بیانیږي

د زیاترو پخوانیو ناولونو منظرکشي ساکته او ولاړه صحنه انځوروي. د مثال په ډول:

(وړه کوټه وه. سپین دېوالونه يې لرل. پر غولي يې سره غالۍ هواره وه. د کوټې په منځ کې یو وړوکی مېز تر سترګو کېده. د مېز پر سر له اوبو ډک جګ او یو ګیلاس ایښي وو. په مخامخ دېوال یو لوی ساعت راځوړند و. د ساعت تر څنګ کړکۍ ښکارېده چې خړه پرده پرې ځوړنده وه. کړکۍ ته مخامخ پر کټ یو سړي پروت و...

دې ته مړ تصویر ویلای شو. حرکت نه لري. لوستونکی ژوندی تصویر نه شي ترې اخیستلای. له دې امله کره کتونکي وايي؛ ساکته منظرکشي تر ډېره په ذهن کې نه پاتې کېږي او لوستونکی له ځانه سره چندان نه شي وړلای.

# ۲: متحرکه منظرکشي

د منظرکشي په دې ډول کې تصویر په خوځند او متحرک حالت کې بیانیږي

د ساعت زنګ وشرنګېد، سړي سترګې رڼې کړې، وښورېد. د کټ له سپرنګونو څخه غنجا پورته شوه. سړی کېناست، کړپ شو، د کړکۍ پله له دېواله سره ولګېده. باد په خړه پرده کې سره راټول شو. سړي د مېز له سره جګ پورته کړ، ګیلاس یې له رڼو اوبو ډک کړ...

په پورته مثال کې مو د کوټې او په کوټه کې د موجودو شیانو په اړه تشریح ورنه کړه. هرڅه مو په حرکت راوستل، غږ مو ورکړ او ژوندي مو کړل. دا مو ونه ویل چې د مېز پر سر جګ او ګیلاس ایښي وو. سړی مو تږی کړ، جګ او ګیلاس ته په خپله ضرورت پیدا شو او په حرکت راغلل.

# منظرکشي او پنځه حواس





## ۱- باصره:

څه شېبه د غونډۍ پر سر دمه شوم. په مخامخ هواره دښته کې یو سړک تېر شوی و، چې یوې درې ته رسېده. په لاندې میدانونو کې یو کورګی و. هلته د ژوند بله کومه نښه نه ترسترګو کېده. دومره ډېر ستړی او ستومانه وم چې څنګه مې سر پر ځمکه کېښود، سترګې مې سره ورغلې. اووه بجې وې چې یوه غږ راویښ کړم. که ګورم هماغه الوتکه وه، له ځایه ونه خوځېدم. خو هغې پر غونډۍ باندې لنډې دورې وهلې. څو شېبې وروسته زما خوا ته راوګرځېده. دومره ټیټه وه چې پیلوټ او ورسره بل مې لیدلی شو. دواړو ما ته کتل او زما پوره یقین شو، چې پېژندلی یې یم، خو لږ وروسته بېرته نابېره هسکه او مخ په ختیځ روانه شوه...

(۳۹مه پوړۍ) د جان بوچان پولیسي ناول



## ۲- لامسه:

تپه تیاره وه. پاڅېدم، چې قدم مې واخیست؛ تندی مې پر دېوال ولګېد. را تاو شوم، چې دروازه پیدا کړم. پښه مې په هوا کې ګرځوله چې اېښودو ته یې خالي ځای ولټوم. پښه مې پر پسته غوښه ولګېده او چې څو مې پښه را اوچتوله، پښه لاړه د مبلمه پر ورانه تکیه شوه. د مبلمه اخ مې واورېد. د هغه له خوځېدو سره زما پښه وښویېده او تر مبلمه ها خوا مې په تندي او زنه د تېزه څیز احساس وکړ او پوه شوم چې له اوبو په خالي جام کې مې سر لګېدلی دی...



# ۳- شامعه:

د هغه بیړه نه وه، کله به ودرېد او له وني به یې یوه پاڼه راوشکوله او د ګوتو تر منځ به یې وموښله چې بوی به یې کړه، سترګې او پـزه بـه یـې ورتـه وسـېزل. د پروتیـو ګـلان بـه یـې راوشکول او د هغه خواږه څاڅکي به یې وزبېښل، چې د ګلپـاڼو پـه بـېخ کـې بـه د ملغلـرو غونډې راڅوړند وو.

له رئیس سره سم د سپرې بوی خونې ته راننوت. خوا ته ناست مېلمـه مـې وربـوز وپېچـه. ډاکتر د حساسیت له امله له عطرو او سپرو منع کړی و، خو ما پـزه پـه زوره زوره راښـکله، چې بوی مې دماغو ته ننوځي. تره مې یې را یاد کـړ. د هغـه د چرګـانو د دوکـان بـوی مـې حس کړ، چې را وبه ووت، سپرې به یې ووهله چې د چرګانو بوی ترې لاړ نه شي.



# ۴- ذایقه:

په منظر کشۍ کې د ذایقې د حس انځور لږ راځي، خو بیا هم کله ناکله ورته اړتیا پېښېږي.

د استاد شپون د یوه داستان په څو کرښو کې:

(... بله دا چې د وریجو زاره ورکې چوي. اول یې اېشوي او بیا یې خوندورې اوبه ټولې تویوي او خوند یې داسې وي، لکه سرې چې په مالوچو شخوند وهي...



# ۵ – سامعه

خاموشه هديره د ځوارلسمې سپوږمۍ لاندې ويده وه. قبرونه لکه ستړي سړي، يو د بل تر څنګ غځېدلي وو... غرونه بيابانونه او نور هرڅه د سپوږمۍ رڼا کې مبهم او ناپېژندل شوي ښکارېدل... هرې خوا ته چې مې کتل قبرونه، قبرونه او قبرونه وو... همدا شېبې وې چې د پښو د ګونګرو شرنګ، شرنګ مې واورېد. څه سندريز غږ يې و... شرنګ، شرنګ شرنګ...

سملاسي پوه شوم، چې د شرنګا غږ د توت د يوې ونې له څنګه چې د هديرې منځ کې ستړې او خوبولې ولاړه ده، راځي. ورو ورو د هغې يوازې او غمځپلې ونې په خوا ولاړم. کتل مې چې د توت ونې لاندې د يوه زاړه قبر خوا ته يوه نجلۍ ولاړه ده او ورو، ورو لګيا ده، نڅا پيلوي... شرنګ، شرنګ، شرنګ... په يوه شېبه کې يې ټوله هديره او ټول ځايونه په خپل غږ کې ونغښتل. تيږو، صحرا او غرونو ټولو دا غږونه راغبرګول... هرې خوا ته همدا غږ و: شرنګ، شرنګ، شرنګ...          (ګلناره او هېنداره) د «رهنورد زرياب» ناول



# د منظرکشۍ پر مهال پامـوړ ټـکي:

د منظرکشۍ او تصویر کښنې پر وخت دا خبره اړینه ده چې منظرکشي یا تصویر کښنه بایـد ډېره اوږده نه شي. له ځینو داستان لیکونکو څخه ځینـې وخـت منظرکشي۔ اوږدېـږي او پـر متن باندې اضافه ښکارېږي. د دغه رنګه منظرکشیو یـو زیـان دا دی چـې کـه هرڅـومره پـه زړه پورې هم وي، بیا هم لوستونکی زړه تنګی کوي. د دې یو علـت دا دی چـې لوسـتونکی له لیکوال څخه یوازې منظرکشي او تصویر نه غـواړي، بلکـې د نـاول د کیسـې پرمختـګ او ځینې نورې خبرې هم غواړي.

# که پوښتني لرئ!

